


دکتور حبیب الله تړی

➢ په لرغونو شرقي آثارو کښې ((پښتون)) معمولاً د ((افغان)) په نامه یاد شوے دے خو یو شمېر غربي پوهان په دې عقیده دي چې د پښتون د کلمې سابقه تر افغان نه اوږده ده او څهٔ باندې څلور سوه کاله پخوا له میلاده د یونان ستر مؤرخ هېروډوټس (۴۸۵-۴۲۶ ق. م) په خپل تاریخ کښې پښتانۀ د پختویس یا پکتویس په بڼه ذکر کړي دي. دغه راز دوي وائي چې د پښتنو د ملک یا پښتونخوا نوم هم همدومره زوړ دے او هېروډوټس په خپل هم دې اثر کښې د پکتیکا یا پکتویک په شکل یاد کړے دے. د دې پوهانو استناد اکثره د هېروډوټس د تاریخ په دا لاندې عباراتو شوے دے:

((داریوش دوه تنه د دې خبرې د معلوملو دپاره وګمارل چې اباسیند چرته په سمندر ورګډېږي؟ دغو دوو تنو خپل کار د کسپتیروس له ښاره او د پکتیکا له هېواده شروع کړو.)) (۱)

((نور هندیان هم شته چې د کسپتیروس له ښار او د پکتیکا له هېواد سره ګډ سرحد لري او د نورو هندیانو شمال ته میشته دي.)) (۲)

پختویس پوستینونه اغوستي وو او وطني لیندې او تورې ئې ګرځولې. (۳) هنري بیلیو، هنري لوونتال، اولف کېرو او د لنګوستېک سروې آف انډیا مؤلف جورج ګریرسن د هېروډوټس په پورته عباراتو کښې د پکتیکا او پختویس الفاظ په ترتیب د ننني پښتونخوا او پښتون د کلمو معادل ګڼي. (۴)

جورج ګریرسن د پښتون کلمه د آریایانو د زاړۀ کتاب رګ وېدا د پکتاس له کلمې سره هم مقائسه کوي او لیکي چې دا دوه کلمې په ډېر غالب ګمان سره یو شے دي. (۵)

هم دا پوهان د هېروډوټس اپاروتي له پښتنو اپریدو سره یو شے ګڼي. (۶) او معروف ناروېژي ژبپوه مارګنستیرن هم وائي چې په صوتي لحاظ دا ممکنه ده چې اپاروتي او اپریدي سره یو شے وي. (۷)

کرو لکه یو شمېر نورو پوهانو غونډې کسپتروس یا کسپتیروس چې د هېروډوټس په پورته عباراتو کښې د پکتیکا له هېواد سره یو ځائے د یو ښار په توګه یاد شوے دے، له ښائسته اوږد بحث نه وروستو پېښور بولي او دا د دې خبرې

يو بل دليل گڼي چې د هېرودوټس پکتويک يا پکتيکا هرو مرو پښتونخوا ده.[8]

ځنې پوهان لکه مارگنسټرن بيا دا نظريه ردوي چې د هېرودوټس پکتويس ننني پښتون دے. دې ليکي «لېسن او له هغۀ نه راوروستو نورو پوهانو پښتون د هېرودوټس پکتويس بللے دے او د اپريدو نوم ئې د «هېرډوټس له اپاروتي سره معادل گڼلے دے. دا وروستۍ خبره کېدے شي چې رښتيا وي خو په هيڅ صورت يقيني نۀ ده مگر وړومبۍ خبره بايد په فونالوجيکي او نورو دلائلو رد شي.[9]

مونږ د مارگنسټرن د دې خبرې او ځنو نورو کمزورو تذکراتو په باره کښې د هم دې فصل په پايې کښې يوه يادونه کښې په يو څۀ تفصيل غږېدلي يو او د پښتنو د تاريخي مطالعې د ځنو ټکو د پوره وضاحت په خاطر په دې ارزي چې لوستونکي ئې يو وار له نظره تېر کړي.

کوم مطالب چې تر دې ځايه په ډېر لنډ ډول ياد شول له هغو نه دا څرگنده شوه چې يو شمېر څېړونکي او معروف پوهان د هېرودوټس د پکتويک او پکتويس الفاظ له پښتونخوا او پښتون سره يو شے بولي او وائي چې دا دوه نومونه تخمين دوه نيم زره کاله پخوا په لرغونو يوناني آثارو کښې ياد شوي دي.

اما د افغان د لفظ په باره کښې د يو شمېر محققينو عقيده دا ده چې دا کلمه تر ټولو د مخه د ايران د نقش رستم په هغې کتيبې کښې راغلې ده چې په دريمه ميلادي پېړۍ کښې د ساسانيانو د يوۀ واکدار، وړومبي شاه پور په هدايت په پارتي او يوناني ژبو ليکل شوې ده.

شپرنگ لن په خپل هغه مفصل مضمون کښې چې عنوان ئې وړومبے ستر شاه پور د زردشت په کعبه باندې دے د دغې کتيبې د تشريحاتو په ضمن کښې يو ځائے ليکي چې دې د دې کتيبې د ابگان يا اوگان کلمې نه د معاصر افغان له نامه نه بهتر معادل لفظ نۀ شي پيدا کولے.[10]

اولف کېرو وائي د دې دوو کلمو د ارتباط ملاتړ دا حقيقت هم کوي چې د شهنشاه شاه پور ډېر ملازمان هرو مرو هغه خلق وو چې د ايران ختيځ ته



پرتو سيمو نه ئې استخدام کړي وو. کرو هم دغه راز وائي چې د ساسانيانو يو امپراتور دريم شاه پور هم د اپاکان په نامه چې ابگان ته بېخي ورته کلمه ده، ياد شوے وۀ. کرو په پايې کښې وائي په افغان باندې د ابگان او اپاکان بدلېدل يو عادي امر دے او دا ټکے سړے دې ته رابولي چې د درنو افغانانو اسلاف په هم دا ساسانيانو او د هغوي په مشرانو کښې ولټوي.[11]

مگر ځنې محققين لکه ورتن گريگورين بيا د نقش رستم د ابگان او افغان د کلمو ارتباط او يووالي ته د شک په نظر گوري او وائي چې سړے

باید د دغو کلمو په لفظي ورته والي باندې ونه غولېږو. ځکه دې وائي د پنځمې میلادي پېړۍ په ارمني آثارو کښې د آذربائجان لرغوني اوسېدونکي په پرله پسې ډول هم دې ته ورته نومونو باندې یاد شوي دي.[۱۲]

اما باید ووئیل شي چې کهٔ د نقش رستم په کتیبه کښې د ابګان کلمه ارمنیانو ته راجع وي نو باید چې د الوان یا اغبان یا اغوان په شکل ثبت شوې وې نه دا چې د ابګان یا اوګان په شکل. ځکه کوم غربي مؤلفین لکه کرونسسکي، بیلیو او نور چې د افغانانو او ارمنیانو په قومي ارتباط ډېر پخوا غږېدلي دي هغوي داسې ښیي چې په وروستو سر کښې ارمنیان د البان په نامه یادېدل خو وروستو دا کلمه په اغبان یا اغوان بدله شوه.

کرونسسکي په دې ارتباط لیکي «اغوانان اصلاً د شېروان (او یا هغه) ولایت وو چې په قدیم کښې د سترې البانیا په نامه یادېدهٔ. (د اغوانانو نوم خپله د دې ښکارندوي دے چې دوي اصلاً البانیان دي. ځکه په الباني ژبه کښې زمونږ د لام تورے د (غ) په توري بدلېږي او زمونږ (ب) د (و) په کانسوننټ بدلېږي او په دې ډول د البان له کلمې نه اغوان جوړ شوے دے.[۱۳]

بیلیو هم دا خبره کوي او وائي (اغوان) نوم اصلاً لرغونو رومیانو په ارمنیانو ایښے دے. دې وائي څهٔ رنګه چې ارمنیان د قفقاز په غرنۍ سیمه کښې اوسېدل او په لاطیني کښې (غرهٔ) ته البه وئیل کېږي نو رومیانو د ارمنیانو وطن البانیا یعني د غرني ملک په نامه یاد کړو او خپله ارمنیان ئې البان یا الوان یعني د غرني ملک اوسېدونکي وبلل. بیلیو وائي چې هم دغه البان بیا په اغوان بدل شو.[۱٤]

نو کهٔ د نقش رستم د ابګان کلمه د آذر بائجان لرغونو اوسېدونکو ته راجع وي باید چې د البان، اغبان یا اغوان په بڼه لیکلي شوې وې نه دا چې د ابګان یا اوګان په بڼه.

ځنې وتلي پوهان د جورج مارګنسټرن په شمول بیا په دې عقیده دي چې د افغان نوم د ورومبي ځل دپاره یو لرغوني هندي منجم وراهه میهیرا د (اوګانه) په شکل ذکر کړے دے.[۱٥]

دا منجم په خپل هغه اثر کښې چې شپږمې میلادي پېړۍ په اوائلو کښې ئې تالیف کړے او برات- سنهیتا نومېږي یو ځائے لیکي:

«دا لاندې د لکۍ لرونکي ستوري په قلمرو کښې شامل دي. غرني سنګرونه، پهلویان، ځویتان، هونان، کولان، افغانان... او غېر عادل او جاه طلبه خلق.[۱٦]

دلته دا خبره د یادونې وړ ده چې «اچ. کرن» چې برات-سنهیتا ئې ان په کال ۱۸٦۹ کښې په انګرېزۍ ترجمه کړې ده د اوګانه لفظ افغان په شکل لیکلے دے او دا د دې معنې لري چې کرن ښخې متیقن وهٔ چې د وراهه میهیرا د اوګانه لفظ او د افغان نوم ښخې سره یو شے دے.

جورج ګریرسن هم وائي چې د وراهه میهیرا د اوګانه لفظ په زیاتره اطمینان د افغان له کلمې سره یو شے ګڼل شوے دے.[۱۷]

ځنې غربي محققین وائي چې یوه چیني زائر هم د خپل هغه سفر په خاطراتو کښې د افغان یادونه کړې چې د اوومې میلادي پېړۍ په اوله نیمائي

کښې ئې کړې دي.

الګزېنډر کننګهم د هند لرغوني جغرافيه کښې د اوپوکين يا افغان تر عنوان لاندې ليکي ((چيني زائر هون ځانګ اوپوکين يواځې يو ځل په يوه لنډه عبارت کښې ذکر کړي او هغه موقعيت ئې د فلنه (بنو) او غزني تر منځ د بنو شمال غرب او د غزني جنوب غرب ته ښودلے دے. (۱۸)

کننګهم لږ وروستو بيا ليکي زۀ تقريباً متيقن يم چې د هون ځانګ د اوپوکين مطلب هرومرو افغان دي. د اوپوکين کټ مټ معادل به اوګان وي. ځکه د چيني ژبې په سېلابونو کښې د افغان لفظ تر دې نه په زياتر صراحت نۀ شي ادا کېدلې... او کۀ خبره داسې وي نو دا تر کومه حده چې ماته معلومه ده، د افغانانو تر ټولو نه قديم ذکر دے. (۱۹)

د کننګهم له يادونو نه وچته ښکاري چې دۀ ته دا نۀ ده معلومه چې په براټ-سنهيتا کښې هم د اوګانه کلمه راغلې ده. اما کوم معادل لفظ چې د چيني ژبې د اپوکين دپاره ښيي هغه د براټ-سنهيتا له اوګانه سره تقريباً بېخي مطابقت لري.

د کننګهم له خبرو نه دا هم ښکاري چې هون ځانګ د او پوکين يا افغانه کلمه د هغې په لغوي مفهوم د افغانانو د ملک په معنٰي استعمال کړې ده او بايد ووئيل شي چې دا کار ډېر راوروستو هم شوے دے.

ازرقي هروي د پنځمې پېړۍ د اولې نيمايۍ شاعر او د سلجوقيانو د کورنۍ مداح په هغې قصيده کښې چې د آلپ ارسلان محمد سلجوقي د زوي طغان شاه (مرګ ۴۶۵ هجري) په ستائنه کښې ئې ليکلې ده وائي:

زهري ګر سوي افغان شوې اے باد شمال



باز ګوئي زهري پيش ملک صورت حال (۲۰)

دا چې د افغان لفظ په لرغونو غېر اسلامي آثارو کښې څۀ وخت او په څۀ شکل راغلے دے. په دې کښې قاطع او يقيني حکم، يو څۀ احتياط غواړي. خو په اسلامي آثارو کښې دا نوم ان له قديم نه په بېخي صريح او متواتر ډول هم دا د افغان په بڼه ثبت شوے دے.

څۀ رنګه چې د دې ليکنې په ځلورم فصل کښې راغلي دي. د افغان نوم لږ تر لږه زر کاله پخوا په هم دا نني شکل په حدود العالم کښې ذکر شوے او وروستو له هغۀ نه اسلامي مؤلفينو په پرله پسې ډول ياد کړے دے. اما د پښتون لفظ په اسلامي آثارو کښې ډېر وروستو ثبت شوے دے.

تر کومه حده چې ماته معلومه ده د اسلامي دورې پخوانۍ معلوم اثر چې د پښتون کلمه بيا بيا پکښې راغلې ده هغه د اخوند درويزه مخزن الاسلام دے چې د ۱۶۰۳ او ۱۶۱۲ ميلادي کلونو ترمنځ ليکل شوے دے. اخوند درويزه يو ځائے کله چې د

روښان پیر د زوي جلال الدین په باره کښې غږېږي لیکي:

((دغه لا په ئې په خُلهٔ کړه چې بادشاه د پښتنو یم. پښتنو لره به ښهٔ کړم، پښتانهٔ را پسې ځئ... پښتنو ټولې پرې وکړو... پښتون درست په دهٔ زبون شهٔ... مغل ګډ په پښتانهٔ شو. د جلال له بده پېله کل پښتون مغل په دار کړو..)) (۲۱)

مخزن په پښتو لیکل شوے دے او یقین ته نزدې ګمان دا دے چې کهٔ د پښتنو په باره کښې له مخزن نه وړاندې لیکلي شوي آثار په پښتو وي نو د پښتون کلمه به په هغو کښې هم راغلې وي. ځکه خپله پښتانهٔ ځانونه پښتانهٔ بولي. خو خبره دا ده چې کوم اسلامي آثار چې په نورو ژبو لیکل شوي دي په هغو کښې پښتانهٔ له ډېر قدیم نه افغانان بلل شوي دي او په پخوانو اسلامي آثارو کښې ئې ملک هم لکه څنګه چې د دې لیکنې په اتم فصل کښې په تفصیل خبرې پرې شوې دي. د کشور افغان، مرز افغان، حد افغان او افغانستان په نامه یاد شوي دي.

البته تاریخي شواهد داسې ښیي چې د افغانستان غېر پښتانهٔ اوسېدونکي هم له ډېر پخوا نه دغه ګډ کور ته منسوب او د افغانانو په نامه یاد شوي دي.

ځنې مؤرخینو لکه محمود کتبي، برهان الدین میرخواند، عبدالرزاق سمرقندي او نورو لکه څنګه چې د دې لیکنې په اول فصل کښې خبرې پرې شوې دي د ځوارلسمې او پنځلسمې پېړۍ د افغانستان ترکان او مغل بیا بیا افغاني مغل او افغاني ترکان بللي او هزارګان ئې هم په مکرر ډول د افغاني هزاره په نامه یاد کړي دي.

د سیفي هروي د هرات د تاریخنامې (تالیف ۷۱۸-۷۲۱ هجري) له ځنو عباراتو او بیاناتو نه داسې ښکاري چې د ځوارلسمې میلادي پېړۍ په اوله نیمایۍ کښې هم د هغه وخت د افغانستان غېر پښتانهٔ اوسېدونکي افغانان بلل شوي دي. مثلاً کله چې سیفي د خپل وخت د افغانستان د ښښو په باره کښې غږېږي د دغه ملک کُردان په صراحت د افغانانو جزو بولي. دې یو ځائے د هغه وخت د افغانستان د واکدار ملک شاهنشاه له خُلې لیکي:

((... افغانان سخت بې پروا، غلهٔ، خوني، فتنه انګېز او مېړني خلق دي. په تېره بیا دا کُردان چې زما په خدمت کښې دي او هر یو ئې رستم دستان او سام نریمان سره ډغرې وهي او را پرزوي ئې..)) (۲۲)

په عمومي ډول پښتنو تل ځانونه پښتانهٔ بللي دي او د افغانستان نورو اوسېدونکو او بهرنیو خلقو اکثر د افغانانو په نامه یاد کړي. یوائې په پخواني هند کښې پښتانهٔ د پټانانو په نامه یاد شوي دي او ځنو نورو خارجیانو هم کله کله د هندوستانیانو په تقلید کښې پښتانهٔ پټانان بللي دي.

خپله د پښتنو په اکثره فارسي لیکنو او حتٰي ډېرو پښتو اشعارو کښې هم پښتون افغانان بلل شوي دي او یو شمېر لیکوالانو او شاعرانو لکه اخوند درویزه او خوشحال خان خټک بیا پښتون او افغان د مترادفو الفاظو په توګه استعمال کړي دي.

د نولسمې پېړۍ له اوائلو نه را دې خوا ته اکثره غربي لیکوالو او مستشرقینو د افغان کلمه

په خاصه او قومي معنٰي د پښتون مترادفه بللې ده خو په عامه او سياسي معنٰي ئې په مکرر او متواتر ډول د افغانستان د اتباعو په مفهوم استعمال کړې ده او په دې ډول ئې د افغانستان ټول اوسېدونکي لکه څنګه چې ښائي افغانان بللي دي.

د افغانستان په سياسي او فرهنګي حلقو کښې هم له ډېر وخت نه را دې خوا ته د افغان لفظ د افغانستان د اوسېدونکي او تبعه په مفهوم استعمال شوے دے او په دې وروستو وختو کښې ئې دا مفهوم ښېخې د عام ذهنيت جزو ګرځېدلے دے.<

نور بيا